# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

یونس نگاه
۰٤ می ۲۰۲۳



یونس نگاه

## د ویانا ناستې اعلامیې ته یوه کتنه

په ویانا کې د طالبان د مخالفینو ناسته، د ډېرو هغو خلکو چې د طالبانو ضد د یوه ټولګډونه غورځنګ د رامنځته کېدو غوښتنه یې لرله، پوره نه کړه. سربېره پر دې، هغو ورځو کې چې د دوحې د غونډې لپاره چمتوالی نیول کېده، په امریکا، اروپا او دغه راز په ملګرو ملتونو کې یو شمېر سیاستوالو د طالب توجیه کولو لپاره هڅې کولې، د کورنیو او بهرنیو اورېدونکو سربېره له بېل ترېبیون څخه غږ اوچتول، د طالبانو د مخالفینو لپاره یو فرصت و، خو له بده مرغه له دغه فرصت څخه د دې ناستې د ګډونوالو ګټه اخیستنه، تر شک لاندې ده. د دې ناستې ګډونوالو د افغانستان خلکو او نړۍ ته له بېلابېلو لارو خپل پیغام ورساوه، لکه د غونډې په ډول د ګډونوالو جوړښت، د هغو کسانو جوړښت چې په مطبوعاتي کنفرانس کې یې ګډون درلود، د مرکو او له ټولو نه مهم د اعلامیې له لارې چې د ناستې په پای کې خپره کړه. د ګډونوالو د جوړښت او دغه راز د غونډې د غړو د مرکو په اړه یو شمېر مخالفینو او موافقو کسانو په ګردې میزونو او مقالو کې خپل نظرونه شریک کړي دي. دلته د ناستې مهم سند یانې اعلامیه ارزوو، څو وګورو چې د افغانستان مسایلو ته د ویانا د دویمې غونډې د ګډونوالو لیدلوری څه ډول دی.

الف) تاریخي او هېوادنی رسالت

په اعلامیه کې راغلي، چې ګډونوال خپل تاریخي او هېوادنی رسالت او مسوولیت ګڼي چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې،د خواشینۍ وړ او له بشري او انساني سره مخامخ افغانستان وژغوري. هغوی دغه راز ویلي دي چې «د افغانستان د ژغورنې یوازینی لار د ټولو سیاسي، ټولنیزو، فرهنګي، مدني فعالینو، خپلواکو شخصیتونو په انسجام او د ملي مقاومت د پیاوړتیا او دغه راز د ثبات رامنځته کولو لپاره د اساسي حل لارې موندلو کې دي» پر ملي مقاومت ټینګار او د ثبات لپاره د اساسي حل لارې موندل، د طالبانو د مخالفینو کړکېچن وضعیت ښیي. دغه ځواکونه لا تر اوسه هم د طالبانو پر وړاندې د حل لارې په موندلو او ګډ غږ اچتولو کې ستونزه لري. تر دا مهاله ډېرو ډلو او شخصیتونو روښانه نه کړای شول، چې د طالبانو پر وړاندې د قومي، سمتي، ملي، دموکراتیک یا هم اسلامي

محورونو پر بنسټ راټولیږي؛ څکه طالبانو د افغانستان خلک له بېلابېلو اړخونو چيچلي او ځورولي او د افغانستان پر بدن يې قبيلوي، قومي، سيمه ييز، ژبني، مذهبي، ديني، سياسي او ملي ټپونه رامنځته کړي دي. دغه ډله په سپين بولدک کې له اڅکزيو سره د قبيلوي دښمن، پنجشير، اندراب او سرپل او ډېرو نورو ځايونو کې د قومي دښمن، د افغانستان په کچه او د هغو کسانو پر وړاندې چې د يوه واحد او دموکراتيک افغانستان غوښتونکي دي د ملي دښمن او د ښځو پر وړاندې د جنسيتي دښمن په توګه چلند کوي.

د افغانستان پر بدن د طالبانو له لوري بېلابېل ټپونه ددې لامل شوي، چې له دغې ډلې سره په مبارزه کې خلک يو لاس او همغږي نه شي. د طالب ضدو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول د مبارزينو او باخبره سياستوالو مسووليت دی. خلک بايد وپوهول شي چې د اڅکزيو، پنجشيريو، فارسي ژبو، شيعه ګانو، ښځو،لوستو کسانو، ښارمېشتو، ملي فکرو، ديموکراسي غوښتونکو او ټولو هغو کسانو چې تاوتريخوالی نه مني، درد يو دی او تر دې وروسته نه بايد د طالبانو پر چلند او خبرو وغوليږي. همداراز نه بايد هېر کړو، چې د طالبانو قربانيان، له يووالي پرته نه شي کولای خپل ګډ دښمن په اسانۍ مات کړي.

د ويانا د ناستې په اعلاميه کې تر ټولو لويه ستونزه د يوه واحد ليدلوري رامنځته کول دي، چې د طالبانو دښمن سره همغږي او يوځای کړي. په اعلاميه کې د ديموکراسۍ هېڅ يادونه نه ده شوې. سمه ده چې په تېرو شلو کلونو کې له ديموکراسۍ ډېره ناوړه ګټه واخيستل شوه لکه: د ولسونو ترمنځ د نفاق رامنځته کول، د خلکو د رايو غلا او هغه دولت چې اساسي قانون يې پر ديموکراسۍ ولاړ و، تبيعض پکې و او د خلکو ارادې ته درناوی نه کېده، خو دا زمونږ کمزورتيا وه چې د ديموکراسۍ په پلي کېدا او دا چې د ترهګرو، زورواکو او درغليو کوونکو پر وړاندې مو د ديموکراسۍ له ارزښتونو نه د ساتنې لپاره د باور وړ مېکانېزم او تګلاره نه درلوده. د طالبانو مخالفين د قانون او ديموکراسۍ له حاکميت پرته نه شي کولای، همغږي شي او انسجام رامنځته کړي.

په اعلاميه کې د خلکو د ازادې ارادې پر بنسټ د دولت په رامنځته کېدو ټينګار شوی چې کېدای شي دموکراتيک نظام ته اشاره وي، خو له ديموکراسۍ په ښکاره تېښته، پوښتنه رامنځته کوي. آيا ګډونوال خپلمنځي جوړجاړی او توافقي ثبات، پر ديموکراتيک نظام غوره بولي؟ آيا هغوی حاضر دي چې د ملګرو ملتونو، امريکا، اروپايي اتحاديې او د سيمې د هېوادونو تر څارنې لاندې د خپلمنځي توافقي واک په وېش سره، له ديموکراتيکو غوښتنو تېر شي؟ د اعلاميې په لومړي پاراګراف کې « د ثبات لپاره د اساسي حل لارو له موندلو» يادونه شوې؛ ثبات څومره ارزښت لري؟ د طالبانو «ټولګډونه» طالباني حکومت په منلو ارزي. په هغه حکومت کې چې د طالبانو مخالفينو ته په واک کې برخه ورکړل شي، لکه: وزارت او رياست او نور...، خو نظام به هماغه ډول امارتي او ديمومکراتيک نه وي؟

ب) مشروع مقاومت او د منلو وړ همغږي

د اعلاميې په دوام د « سياسي جريانونو» له مقاومت او ددغو مقاومتونو ترمنځ د منلو وړ له همغږي يادونه شوې ده. د وسله وال مقاومت په هکله نه يادونه هم د پاملرنې وړ ده. داسې ښکاري چې د ويانا د غونډې ګډونوالو د ديموکراسۍ او وسله وال مقاومت له نه يادولو چې طالبان ورڅخه کرکه لري، په يوه ډول تېښته کړې او هڅه يې کړې چې په دې کار سره خبرو اترو او سياسي هوکړې ته شين څراغ وښيي.

په اعلاميه کې د طالبانو پر جنايتونو هم خبرې شوي او د هغو پر وړاندې يې مقاومت مشروع ګڼلی ؛ خو وسله وال مقاومت په کنايوي ډول ياد شوی او هڅه شوې چې د « مقاومت د ټولو ډولونو» يا په ښارونو او غرونو کې» د سياسي جريانونو په مشروع مقاومت بسنه وکړي. د مقاومت ټولو ډولونو کې وسله وال مقاومت هم شامليږي او په غرونو او درو کې د سياسي جريانونو مشروع مقاومت د وسله وال مقاومت په مانا دی. له ديموکراسۍ او وسله وال

مقاومت نه یادونه، پرته له دې چي له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره تمایل وښیي، بله مانا نه لري. څرګنده نه ده چي د اروپايي هېوادونو او هغی چي د دوحي د هوکړه لیک د موادو د پلي کېدو په هڅه کي دي او داسي ښکاري چي طالبان د «تولګډونه حکومت» جوړولو ته اړ کوي، د اعلاميي د جوړولو په مدیریت کي يي څومره رول لرلی دی. کېدای شي د دې ناستي ګډونوالو په خپله غوښتي وي چي د ملګرو ملتونو سازمان او د کنفرانس جوړونکو ته دا فرصت په لاس ورکړي چي د طالبانو او د دې ډلي د مخالفینو ترمنځ د خبرو اترو د پیل هڅي وکړي.

په بهرنیو غونډو کي د طالبانو د رسمیت پېژندني پر سر د خبرو اترو په اړه وروستي متناقض پیغامونه، څرګندوي، چي کېدای شي په را روانو مېاشتو کي د اوسني بن بست ماتولو شاهد واوسو. د طالبانو او مخالفینو ترمنځ يي د خبرو له پیلېدو پرته، له دغه بن بست نه وتل هم اسانه کار نه دی. له دې امله، ډېر احتمال شته چي د دوحي په غونډه کي د خبرو اترو د بیا پیلېدو لپاره یو مېکانیزم وړاندې شي او د احمد مسعود په مشرۍ جبهې خو لا پخوا د ویانا د ناستي له لارې، د خبرو اترو لپاره چمتوالی اعلان کړی دی. په دې ناسته کي د ځینو څېرو نه ګډون، هغه څه چي کېدای شي په دوحه کي ترسره شي، تر خپل اغېز لاندې راولي. ډېرو ویلي دي چي ویانا ته د تللو پرځای، په کور کي کښېنئ او په دوحه کي د بدلونونو په تمه واوسئ، او یا هم د ویانا په غونډه کي په ګډون سره د دوحي په ناسته او له هغي وروسته د واک د وېش په برخه کي خپل چانس له لاسه مه ورکوئ. دغه راز هغه وخت چي د ویانا د اعلامیي پرسر د بحث لپاره تېروئ، د دوحي د کنفرانس د جوړونکو سره د خبرو اترو او اړیکو لپاره مصرف کړئ.

د ویانا د ناستي ګډونوال «ب پلان» هم لري او له طالبانو سره د مبارزې په برخه کي يي د همغږۍ په اړتیا خبرې کړي دي. هغوی ویلي دي چي «د منلو وړ» همغږي رامنځته کولو ته د طالبانو ټول مخالف جریانونه ژمن دي او د هغه پلي کېدو لپاره هڅه کوي. له منلو وړ همغږۍ څخه موخه، کېدای شي په سیاسي چوکاټ کي همکاري او یووالی تعریف شوی وي. په دې مانا، چي یوه کاري ډله يي ته يي دنده سپارلي ترڅو د منلو وړ همغږۍ د انسجام لپاره د لارې نقشه جوړه کړي. د طالبانو د مخالفینو د انسجام او همغږۍ لپاره د لارې نقشه جوړول، تر ټولو مهمه او له کړاوه ډک مسوولیت دی. کوم ارزښتونه کولای شي چي د طالبانو بېلابېل دښمنان او مخالفین سره یو کړي او د هغوی له ګډوډې ډکه مبارزه په یوه لوی او ژغورنکي غورځنګ بدل کړي؟ د لارې نقشي د جوړولو لپاره یوه لاره، هغو ارزښتونو ته پاملرنه ده چي طالبان له هغو سره دښمني لري، ترڅو مخالفین د هغو ارزښتونو په پام کي نیولو سره د طالبانو پر وړاندې متحد کړي. د بېلګي په ډول، طالبان په هېڅ جمعي امر کي د خلکو رایو ته ارزښت نه ورکوي او په خپلو ټولو چارو کي د ملایانو او د خپل امیر فرمانونه غوره او پرځای ګڼي، زده کړو ته ارزښت نه ورکوي، ښځي له نارینه و سره د برابر حقونو وړ نه بولي او مذهبي او قومي تبعیض ته لمن وهي.

د طالبانو مخالفین کیدای شي د قانوني حکومت په رامنځته کولو، ملي یووالي، د خلکو رایو ته درناوي، د بشر حقونو او مدني آزادیو ته درناوي، پر زده کړې او پرمختګ د ټینګار او د جنسیتي، مذهبي او قومي تبعیضونو د حلولو په برخه کي سره متحد او یو کړو. له دې امله، د خلکو له دیموکراتیکو غوښتنو څخه په ښکاره ډول شاتګ، د طالبانو د مخالفینو د کمزورتیا لامل کیږي او دایمي ثبات له ځند او خنډ سره مخ کوي. د توافقي ثبات په ترلاسه کولو کي چي د خلکو له اساسي حقونو پکي سترګي پټي شي، او هغه ټولګډونه حکومت چي د زورواکو ترمنځ پکي واک ووېشل شي، د له منځه تللو احتمال يي ډېر دی.

ج) رسمیت غوښتنه

طالبان د امارت د په رسمیت پېژندلو غوښتونکي دي. هغوی وايي جګړه کي جدي سیال نه لري او پر ټول هېواد د وسلي په زور حاکم دي. د دوی په باور، هېوادونه پرته له دې چي امارت په رسمیت وپېژني، بله لار نه لري. هغوی

له یوې خوا د داعش پر وړاندې د خپلې جګړې تبلیغ کوي او له بل لوري ټینګار لري چې د افغانستان له خاوری به نورو هېوادونو ته د ترهګرۍ ضد فعالیتونو مخنیوی وکړي. دوی دغه راز ادعا کوي چې له امریکا سره پهر خپلو ژمنو ټینګ دي او کولای شي چې د دوحې په تړون کې له ښکېلو هېوادونو سره د هغوی د باوري شریک په توګه همکار پاتې شي. بل لوري ته، د جهاد او د نړۍ د فتحې پیغامونه ورکوي او ګواښ کوي چې که په افغانستان کې د «رسمي امارت» خاوندان نه شي، د نړیوال خلافت لپاره به وجنګیږي. ډیری خلک د ښوونځیو تړل او له ټولنیز ژونده د ښځو بشپړ منع کول د رسمیت ترلاسه کولو لپاره د طالبانو د چانه وهلو یو ډول تاکتیک بولي. د ملګرو ملتونو د سازمان چارواکي هم پر خپلو کارکوونکو لګول شوي محدودیتونه د طالبانو لخوا، د دوی د دې ډلې رسمیت پېژندلو پلمه بولي او له همدې امله له طالبانو سره د خبرواترو غوښتونکي دي. داسې ښکاري چې د طالباني امارت د عادي کولو لپاره ناوړه هڅې دوام لري او ددې ډلې لاپې ګران د رسمیت پېژندلو په برخه کې د طالبانو له کړنو ناخوښ دي. هغوی تمه لري چې طالبان د ښځو د حضور او د زده کړو پر وړاندې د نرمښت په ښکاره کولو، خپلو نړیوالو ملاتړو ته وښيي چې هغوی بدل شوي او په دې ډول به د طالبانو د امارت رسمیت پېژندلو لپاره په لویدیځ کې عامه افکار چمتو شي. هېره دې نه وي چې د طالبانو مخالفین په نړیواله کچه او دغه راز د لویدیځوالو سیاستوالو ترمنځ هم لږ نه دي. طالبانو ته د احتمالي رسمیت ورکولو د ګواښناکو پایلو یادونه تل کیږي. په دې لړ کې د امریکا په اردو او د سیاست په ډګر کې نامتو کسانو د دوحې هوکړه لیک او طالبانو ته د واک سپارل تېروتنه بولي. سربېره پر دې، نړیواله ټولنه لا هم هڅه کوي چې د دې ډلې د رسمیت پېژندلو لپاره هلې ځلې وکړي. د مرستو لېږل، استخباراتي همکاري او د طالبانو د مخالفینو منزوي ساتل، دغې ډلې سره د نړیوالې ټولنې د ښه نیت په توګه یادولی شو.

نړۍ د طالبانو پر وړاندې مقاومت هم په رسمیت نه پېژني او هغوی یې د «خبرو اترو» په خام تار او د «ټولګډونه حکومت» په رامنځته کولو غولولي دي. په ویانا کې د طالبانو د مخالفینو د دویمې ناستې اعلامیې، د دې ترځنګ چې په نرمه لهجه یې د خبرواترو لپاره خپل چمتوالی ښودلی، له نړۍ یې غوښتي چې « د افغانستان د خلکو د مقاومت ټول ډولونه په رسمیت وپېژني» خو نړۍ لا تر اوسه د طالبانو پر وړاندې د مقاومت ښکاره ملاتړ نه دی کړی. نړۍ د نسبي فرصتونو په وړاندې کولو سره یې هڅه کړې چې له طالبانو سره مخالفت ژوندی پاتې شي، خو په هغه کچه نه وي چې دغه ډله له ستونزې سره مخ شي. د دوحې ناسته او هغه څه چې له هغې وروسته په راتلونکو میاشتو کې پېښیږي، کېدای شي د طالبانو او د هغوی د مخالفینو په هکله د نړیوالې ټولنې او لویو قدرتونو هېوادونو تګلاره روښانه کړي.

له دې سره به اوسنی پېچلی مبهم وضعیت پای ته ورسیږي. داسې ښکاري چې اوس مهال د امارت د رسمي کېدو چارې د پلې کېدو په حال کې دي. که چیرې طالبان د امریکا او خپلو ملاتړو هېوادونو سره نږدې اړیکې وساتي او په خپلو سیاستونو کې د شکلي بدلونونو په راوستو سره د امارت د رسمیت پېژندلو د توجیه لپاره زمینه برابره کړي، د دوحې هوکړه لیک به د امارت په رسمي کېدلو سره بشپړه شي. دغه راز په لنډ وخت کې به د طالبانو پر مخالفینو ساحه تنګه شي. خو لږ وروسته به نړۍ له طالبانو سره په ستونزو اخته شي؛ ځکه چې طالبان به د خپلو ترهګریزو فعالیتونو په کنټرول کې ناتوانه وي او له شک پرته به یې زیان نورو ته رسیږي.

نړۍ که په هر ډول له طالبان سره چلند وکړي، د افغانستان خلک له طالبانو سره د مبارزې او له تور او تپل شوي امارت سره له مقاومت پرته بله لار په مخکې نه لري. که چیرې طالبان په رسمیت وپېژندل شي، صفونه به لا روښانه شي او په ډېر لنډ وخت کې به آزادۍ غوښتونکي او د بنسټ پالنې ضد مبارزین افغانستان د برحقه استازو او د نړیوالې ټولنې د باور وړ همکارانو په توګه هرکلي سره مخ شي. له دې امله د طالبانو پر وړاندې د مقاومت د بیرغ په

زمکه ایښودل به ستراتیژیکه تېروتنه وي او د قانون او د هېوادوالو د آزادو رایو پر بنسټ د نظام جوړولو رامنځته کولو لپاره د افغانستان د خلکو د مبارزې د پر رسمیت پېژندلو باندې ټینګار که نن بې پایلې وي، راتلونکې کې به يې خامخا بریا پر برخه شي.

د) بهرنیانو ته مخامخ وینا او ولسي ملاتړ ته نه پاملرنه

د سیاستوالو په اعلامیو او ویناو کې له خلکو نه یادونه، په یوه دود اوښتی دی. ټول، له طالب نه نیولې تر د طالب مخالفینو پورې، د خلکو په اړه خبرې کوي؛ خو په تېرو څلور لسیزو کې د خلکو ځواک ته د پروژې په سترګه کتل شوی او دغې چارې خلکو ته ډېر زیان اړولی دی. له بده مرغه د افغانستان خلک د اوږدو جګړو او بې وزلی له امله، ډېر کمزوري شوي دي. له همدې امله، ډېر کله بهرنیو ته یې سترګې پاتې وي. ډېری خلک له نخبه ګانو او له سیاستوالو دومره هیله نه لري او تمه لري چې بهرنیان يې مرسته ته راودانګي او همداراز تمه لري چې بهرنیان به څه ډول برخلیک د هېواد لپاره په پام کې ونیسي. طالبان هم سره له دې چې مذهبي او استعماري ضد غولونکي شعارونه ورکوي، خپلې ټولې کړنې د بهرنیو د ملاتړ د راجلبولو پر محور تنظیموي. له بهرنیانو سره خبرې کوي او معاملې کوي. هېوادوال په جوماتونو، ښوونځیو، سړکونو او دفترونو کې وژني او د ښاروندانو اساسي حقوق لکه زده کړه، حمام او د سفر مخنیوی کوي ترڅو د رسمیت پېژندنې په مذاکره کې د فشار د آلې په توګه ترې کار واخلي. د طالب مخالفین هم له خلکو سره ډېر لږ او له بهرنیانو سره ډېرې اړیکې ساتي او بهرنی ملاتړ پر ولسي ملاتړ غوره ګڼي. د خلکو په ځواک بې باوري او د بهرنیو په ملاتړ له حده زیاته تکیه، د ویانا د دویمې ناستې په اعلامیه کې هم په ښکاره ډول څرګنده ده. په اعلامیه کې له نړیوالې ټولنې غوښتل شوي څو د افغانستان په هکله غیرمسوولانه چلند ونه کړي او د دوحې ناستې له جوړونکو غوښتل شوي چې له هرډول بحث نه چې د « د طالبانو د حاکمیت د دوام او د افغانستان د وضعیت د پیچلتیا» لامل کیږي، ډډه وکړي. د سیمې هېوادونو ته ګواښ شوی چې « په سیمه کې د ترهګرو د زیاتوالي ګواښ په یوه جدي تهدید اوښتی دی» او د سیمه ییز او نړیوال تروریستي ډلو پر وړاندې د طالبانو په مبارزې ونه غولیږي. د ملګرو ملتونو له سازمان او نړیوالې ټولنې غوښتل شوي چې د طالبانو مشران هم خپلو «تعزیراتو ته تابع» کړي. له نړیوالې جزایي محکمې غوښتل شوي ترڅو « طالب جنایت کاره او مشران يې تر قانوني څېړنې لاندې ونیسي» له اسلامي هېوادونو او د اسلامي همکاریو له سازمان نه غوښتنه شوې چې « د طالبانو د غیراسلامي کړنو په وړاندې روښانه موقف او عملي ګامونه» پورته کړي. د اتریش له مېلمه پالنې مننه شوې او له « سولې غوښتونکو بنسټونو» غوښتل شوي څو د دا ډول ناستو د دوام عملي ملاتړ وکړي. خو د افغانستان له خلکو غوښتنه نه ده شوې چې څه ډول سره یو شي، خپلې مبارزې پراخې کړي، څه ډول د طالبانو پر وړاندې د مقاومت ملاتړ وکړي او څه ډول له طالبانو سره له مرستې کولو ډډه وکړي. په اعلامیه کې پر خلکو نه تمرکز او پر بهرنیو قدرتونو او بنسټونو له حده زیاته تکیه ، د طالبانو د مخالفینو لویه کمزورتیا ښیي.

طالب ضدو ټولو ډلو او مخالفینو، په تېر کې د هېواد د ژغورنې په لاره کې د مبارزې لپاره فرصتونه درلودل. له چپي ډلو نیولې چې پر خلکو يې ظلم وکړ او خپلې خامې او ناوړه هیلې يې په خلکو وتپلې، تر جهادي تنظیمونو پورې چې خدای او ملت يې پلمه ونیول او د هغوی په وژلو او لوټلو يې لاس پورې کړ، تر هغو چې د دیموکراسی تر نامه لاندې يې د قومونو ترمنځ نفاق واچوه، بډې يې واخیستې او د ولس رایې يې غلا کړې، ټولو د کار او خدمت لوی فرصتونه له لاسه ورکړل. که چېرې کوم کلاس جوړ شي چې په هغه کې ټول غیر طالب ځواکونه سره راټول شي او له تېر نه زده کړه وکړي، د یاد درس اصلي عنوانونه باید داوي: ۱) څنګه کولای شو د کورني ظرفیت په پیاوړتیا کې هڅه وکړو او خلک د سیاست اصلي محور وګرځوو؟ ۲) څه ډول کولای شو د بهرنیانو د ملاتړ تاکتیکي رول درک کړو،

له هغه نه په سم ډول ګټه واخلو او د بهرنیانو په هېڅ راز دوامداره او ستراتیژیک ملاتړ باور ونکړو؟ د طالب مخالفین یوازې له ترهګرو او طالبانو سره د مبارزې مسوولیت نه لري؛ بلکې خپلې بې شمېره کمزورتیاوې هم باید اصلاح کړي او ځان د آزادۍ غوښتنې او دموکراتیکو مبارزو د مشرتابه وړ وګرځوي. یوازې د طالبانو جهل او ترهګري خنډ، نه ده؛ د طالب ضدو مخالفینو ترمنځ هم یو بل ته په بد نظر کتل، طالبانو ته ورته کړنې او نور... هم لویې تېروتنې دي. ډېرى خلک په تېرو نږدې دوو کلونو کې د طالبانو له ناوړه کړنو ستړي شوي او دوی د یوې ترهګرې ډلې په توګه پېژني. تر دې چې ځینې طالب جنګیالي هم له اوسني وضعیت څخه ناراضه دي. د یادې ډلې ځینې چارواکي هم یوهېږي چې کړنې یې ان له منځنیو پېړیو سره برابرې نه دي او د هغو دوام به یاده ډله وپرځوي. تر ټولو مهمه مسله داده چې کوم ځواک کولای شي چې د طالب دښمن، د طالب مخالف او د طالب له امارته د نهیلو خلکو باور خپل کړي؟ مسله دا نه ده چې څوک یا کومه ډله له چین او امریکا سره اړیکې ټینګولی شي، د بهرنیو قدرتونو زړه ترلاسه کول کېدای شي د معاملې له لارې هم ترلاسه شي، خو د ولس د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره باید هڅه وشي او په دې برخه کې خپله وړتیا ثابته کړو.

نوټ: دا زما د مقالې ژباړه ده. ژباړه د هشت صبح پښتو څانګې له خوا شوې ده.